# ښځه دې د دوو ورځو په اندازه سفر نه کوي، پرته له دې چې خاوند یا محرم ورسره وي

له ابو سعید الخدري رضي الله عنه څخه روایت دی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې په دولس غزاګانو کې ګډون کړی دی، فرمایي چې: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه څلور (خبرې) اورېدلي دي چې زما خوښې شوي دي هغه فرمایلي دي: «ښځه دې د دوو ورځو په اندازه سفر نه کوي، پرته له دې چې خاوند یا محرم ورسره وي، بل یې دوه روژې منع کړي دي چې یوه یې د کوچني او بله د لوی اختر په ورځو کې روژه نیول دي او دا چې د سهار د لمانځه څخه وروسته لمونځ نشته تر دې چې لمر راوخیژي او د مازدیګر له لمانځه څخه وروسته تر دې چې لمر ولویږي، او دا چې له دریو جوماتونو پرته په سفر مه ځئ چې هغه: مسجد الحرام، بیت المقدس او زما دغه جومات دی».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم له څلورو کارونو منعه کړې ده: لومړی: د ښځې له خاوند او محرم پرته د دوو ورځو له سفر څخه ممانعت. او محرم یې هغه خپلوان دي چې دا پرې د تل لپاره حرامه شوې ده، لکه زوی، پلار، وراره، خوره ئې، تره، ماما او داسې نور. دویم: د کوچني او لوی اختر په ورځ د روژې نیولو ممانعت ، برابره ده که مسلمان یې د نذر، نفل او یا کفارې له مخې روژه ونیسي. دریم: د مازدیګر له لمانځه وروسته تر لمر پرېوتو پورې د نفلي لمانځه څخه ممانعت، همدا رنګه د سهار له راختلو (له لمانځه) وروسته تر دې چې لمر راوخیژي. څلورم: کوم ځای ته سفر کول او د هغه ځای د حرمت عقیده ساتل، یا دا چې نیک پکې څو برابره کیږي حرام دي پرته لدې دریو جوماتو نو څخه، نو لدې پرته نورو ځایونو ته د لمانځه لپاره د سفر په موخه کډې نه تړل کیږي، ځکه لدې دریو جوماتونو پرته په نورو ځایونو کې ثواب نه څو چنده کیږي؛ هغه درې جوماتونه مسجد الحرام، نبوي مسجد او د الأقصی جومات دی.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/10603